

IOM UN MIGRATION | UNAMA | UN WOMEN

# د افغان مېرمنو وضعيت، د ملګرو ملتونو د ښځو سازمان - يوناما د کډوالۍ نړيوال سازمان

جون ۲۰۲۳

انځور: د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره/سيدحبيب بيدل

## شالید

دا لنډيز د ښځو د حقونو او جنسيتي برابرۍ په اړه د وروستيو پېښو په دوران کې د ښځو د وضعيت او لومړيتوبونو په اړه په ټول افغانستان کې د ښځو ليدلوري وړاندې کوي. دا د کليدي موضوعاتو په اړه نړيوالې ټولنې ته د ښځو سپارښتنې وړاندې کوي چې په کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغان مېرمنو په کار کولو باندې د ۲۰۲۳ کال د اپريل د ۴ نېټې بنديز[1] هم شامل دی چې د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۲۴نېټې د بنديز يوه پراختيا ده چې افغان مېرمنې په داخلي او نړيوالو نادولتي مؤسسو کې له کار کولو څخه منع کوي[2].

د دې لنډيز د چمتو کولو لپاره د ملګرو ملتونو د ښځو سازمان د کډوالۍ نړيوال سازمان او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) يو لړ مشورې ترسره کړل چې ۴۰۷ تنه افغان مېرمنو ته لاسرسي وموند او په دې پروسه کې د ۲۰۲۳ کال د اپريل د ۱۸ او ۲۶ نېټې ترمنځ له ۱۸۱ ګډونوالو څخه په کابل، کندهار، هرات، بغلان، باميان، بلخ، ننګرهار، کونړ او لغمان کې ډېټا راټوله شوه[3]. د اپريل د ۲۰ او مې ۱۲ نېټې ترمنځ ۲۲۶ له ښځو سره يو په يو ټيلي سروې ګانې په ۲۰ ولايتونو کې ترسره شوې[4] چې ښاري او کليوالې سيمې په کې تر پوښښ لاندې نيول شوې وو[5]. په دې ښځو کې د کورنيو مشرانې داخلي بېځايه شوي خلک ښاري او کليوالي اوسيدونکې کارکوونکې او وزګارې ښځې شاملې وې. د عمر، مدني حالت، نژاد او تعليمي مخينې له اړخه ګډونوال مختلف ول. له نارينو سره يوه مشوره مهم ترسره شوې چې ازمايښتي بڼه درلوده چې د جنسيتي برابرۍ او د ښځو د حقونو په اړه د دوی پر نظرونو پوه شو[6].

---

[1] د ۲۰۲۳ د اپريل پر ۴ نېټه ملګرو ملتونو ته د حاکمو چارواکو له خوا خبر ورکړل شو چې د سملاسي انفاذ سره هيڅ افغان مېرمن اجازه نه لري چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره کار وکړي او دا چې دا ګام به په فعاله توګه نافذېږي. چې د داخلي ښځينه کارکوونکو امنيت نور تضمين نه دی. دا پرېکړه د هغه فرمان پراختيا ده چې مخکې د ۲۰۲۲ د ډسمبر مياشت پر ۲۴ اعلان شوی وه چې افغان مېرمنې په ملي او بين المللي نادولتي مؤسسو کې له کار کولو څخه منع کړې وه. تر اوسه پورې حاکمو چارواکو ملګرو ملتونو ته ډاډ ورکړی دی چې دا بنديز پر هغو افغان مېرمنو نه پلی کېږي چې په روغتيا يا تعليمي برخو کې کار کوي نه هم پر هغو بهرنيو ښځو پلی کېږي چې د ملګرو ملتونو لپاره کار کوي.


[2] د نادولتي مؤسسو لپاره کارکوونکو ښځو باندې د بنديز د سملاسي اغېزو د تحليل لپاره وګورئ: د ملګرو ملتونو د ښځو سازمان، ۲۰۲۳، له دندو وتلې، بېوزلۍ ته ورغاړې وتې - په نادولتي مؤسسو کې پر کارکوونکو افغان مېرمنو باندې د بنديز اغېز.

[3] د ملګرو ملتونو پر ښځينه کارکوونکو باندې دفتر ته د تګ محدوديتونو او د ښځينه وو د غونډو اړوند امنيتي اندېښنو له کبله ټولې مشورتي ناستې په مجازي توګه ترسره شوې او ډېری مېرمنی چې اړيکې ورسره ونيول شول د حاکمو چارواکو د غچ اخيستنې او/يا د کورنۍ له غړو څخه د غچ اخيستنې له وېرې له ګډون څخه ډډه وکړل.

[4] دا ولايتونه عبارت دي له غور، بدخشان، کابل، پکتيا، پکتيکا، نيمروز، خوست، کندهار، غزني، باميان، هرات، دايکندي، فراه، هلمند، ننګرهار، بادغيس، وردک، سرپل، بلخ او بغلان څخه.

[5] د ملګرو ملتونو د ښځو سازمان، يوناما او د کډوالۍ نړيوال سازمان، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ناستو څخه مخکې په هيواد کې دننه افغان مېرمنو سره په هرو دريو مياشتې کې مشورې ترسره کوي


[6] د افغان نارينه و يوې شپږ کسيزې ډلې په کندهار کې آنلاين مشورتي ناسته ترسره کړه.




۱۹٪
په کورنۍ کې
۹۹٪ ویلي چې
محدودیتونه د منفي
میکانیزمونو لکه د
ماشومانو کار، د ماشومانو
ودونه او د بې ځایه شویو
خلکو لامل ګرځي
۸۰٪ ستاسو په ټولنه کې





هغه ښځې چې د کورنۍ په کچه پریکړه کولو کې "ښه"
یا "بشپړ" نفوذ لري
۱۰۰٪
۷۵٪
۵۰٪
۲۵٪
۰٪
۹۰٪
۵۴٪
جنوري ۲۰۲۳
اپریل ۲۰۲۳


۸۱ سلنه مېرمنې وایي، چې محدودیتونو په تېرو درېیو میاشتو کې د فعالیتونو د
ترسره کولو وړتیا کمه کړې ده.
۱۹٪
هیڅ کمښت نشته
۸۱٪
۴۲٪
ښاري ښځې
۲۴٪
ښځینه کلیوال
۱۵٪
نیمه ښاري میرمنې

هیڅکله
۱۶٪
ورځنی
۶٪
اونۍ
۱۶٪
په تیرو دریو میاشتو کې
څو ځله میرمنې له خپلې
کورنۍ بهر له نورو میرمنو
سره لیدلي
۳۱٪
په میاشت
کې له یو ځل
څخه کم
۳۱٪
په میاشت کې
۱-۲ ځله

۴۸٪ په ټولنه کې د
نورو ښځو سره
۳۹٪ په
کورنۍ کې د
نارینه غړو
سره
په تیرو دریو میاشتو کې د ښځو
ټولنیزې اړیکې خرابې شوې دي
۶۳٪ په ټولنه کې د نورو
نارینه وو سره

۴۹٪
ښځینه کلیوال
میرمنو د دوی په رواني روغتیا کې د پام وړ خرابوالي
راپور ورکړی (د اضطراب احساس، انزوا، خپګان).
۶۲٪
ښاري ښځې

## موندنې

### د نادولتي مؤسسو او ملګرو ملتونو لپاره پر کارکوونکو افغان مېرمنو باندې بندیز

افغان مېرمنې، د نادولتي مؤسسو لپاره پر افغان مېرمنو د بندیز او تر ملګرو ملتونو پورې دغه بندیز غځول او د دوی په ټولنو کې د ښوونې د زیاتوالي ترمنځ مستقیمه اړیکه په ګوته کړې ده. د افغان نارینو یوې ډلې ورته مشاهده یې هم منعکس کړ. په داسې حال کې چې یادونه یې وکړه چې د حاکمو چارواکو پالیسي ګانې د ښځو د حقونو اړوند د ټولنې زیانمنول یې زیاته کړې ده. تقریباً ټولو مېرمنو (۹۹سلنه) وویل چې پر زده کړو او کار باندې محدودیتونه د دوی په ټولنو یا کورنیو کې د منفي میکانیزمونو سره د مبارزه کولو لکه په ماشومانو باندې شاقه کارونه کول د ماشوماتوب ودونه او یا بېځایه کېدو سبب ګرځېدلي دي[7]. ځینو ځواب ویونکو د دې تراو یادونه وکړه چې ډېر خلک د دوی په ټولنو کې ګدایي او سوال ته اړ شوي دي. دا چاره یو څه اندېښنې راپورته کوي د دې په پام کې نیولو سره چې حاکمو چارواکو د ښځو ګدایي جرم بللی دی.[8]

نږدې ۸۵ سلنه افغان مېرمنو یادونه وکړه چې په تېرو درېو میاشتو کې د دوی د عاید موندنې فعالیتونو د ترسره کولو وړتیا کمه شوې ده. نږدې نیمایي (۴۱سلنه) یې اوسمهال «په واقعیت کې» یا «هیڅ» نه شي کولی چې دا ډول فعالیتونه ترسره کړي چې د کور دننه فعالیتونه هم په کې شامل دي لکه خیاطي او د چرګانو فارمونه. په ټولو ولایتونو کې ښځو په دې خبره موافق ول چې د دوی وزګارتیا ناوړې پایلې لرلې چې په کورنیو کې یې د دوی وضعیت اغېزمن کړی دی لکه په پرېکړه کولو کې د دوی د اغېزې کموالی د کورنۍ له نارینه غړو سره د اړیکو خرابوالی او د کورني تاوتریخوالي د احتمالي زیاتوالی په ګډون. که څه هم په ټیلي سروې ګانو کې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي په اړه پوښتنې شاملې نه وې خو ډېرې مېرمنو دا موضوع په خپلواکه توګه د هغو محدودیتونو د پایلې په توګه راپورته کړل چې د دوی ورځنۍ ژوند یې اغېزمن کړی دی.

افغان مېرمنو وویل چې د دوی په ټولنو کې هغه مېرمنې چې مخکې له کور څخه بهر دندو باندې بوختې وې اوس د عاید ترلاسه کولو بدیل فعالیتونه لټوي او مسلکي روزنې تعقیبوي.[9] دا چاره پر تګ راتګ باندې لګېدلو اوسنیو محدودیتونو (لکه د محرم لارښود[10]) او د موجود ملاتړ او سرچینو او همدا ډول د اقتصادي فعالیتونو د پیلولو مهارتونو نشتوالي ته په کتلو سره د ډېرو ښځو لپاره سخت بدلون وه. د کورنیو ښځینه مشرانې د نورو ښځو په پرتله ښې وې چې ۶۸ سلنه (د هغو ښځو د ۴۸ سلنه په پرتلې سره چې د کورنیو مشري ور پرغاړې نه وه) اوسمهال کولی شي په کور کې فعالیتونه ترسره کړي.

په عمومي ډول د ښځو او نجونو پر حقونو باندې په ځانګړې توګه زده کړو او ګومارنې ته د دوی پر لاسرسي باندې د حاکمو چارواکو محدودیتونه د ۹۹ سلنه افغان مېرمنو په وینا د اقتصادي او ټولنیزې فاجعې سبب ګرځېدلي دي. دا حالت تر ډېره پورې په سملاسي توګه د ښځو او نجونو له خوا حس کېږي خو د پراخې ښوونې او رواني روغتیایي ستونزو سبب هم ګرځي چې د ټولو افغانانو لپاره یې یو مخ پر ځوړ مسیر رامنځ ته کړی دی.

### په پرېکړو کولو کې د ښځو اغېز

د عاید ترلاسه کولو لپاره د ښځو په فرصتونو کې له کموالي سره په موازي توګه په کورنیو کې په پرېکړه کولو کې د دوی اغېز هم په تېرو درېو میاشتو کې په چټکۍ سره خرابه شوی ده. په جنوري کې د ۹۰ سلنې په پرتله یوازې ۵۴ سلنه افغان مېرمنو وویل چې دوی په خپله کورنۍ کې «ښه» یا «بشپړ» اغېز لري[11]. د کلیوالي مېرمنو (۴۰ سلنه) او ښاري مېرمنو (۵۸ سلنه) ترمنځ ښکاره توپیر موجود دی چې شاوخوا ۴۳ سلنه کلیوالي مېرمنو وویل چې دوی په کورنې کې «تقریباً هیڅ اغېز» یا «هیڅ اغېز» نه لري چې په پرتله یې د ښاري مېرمنو ترمنځ دا سلنه ۱۴ وه. په ښاري سیمو کې لږ محدود جنسیتي نورمونه او د ښاري ښځو لوړې زده کړې او د عایدو کچې له دوی سره مرسته کوي چې په کورنۍ کې په پرېکړو کولو کې ستر اغېز ولري.

---

[7] د یوموټې خوړو مصؤنیت د پړاوونو ډلبندي، ۲۰۲۳، افغانستان: د ۲۰۲۳ اپریل لپاره د خوړو د حاد غیرمصؤنیت وضعیت او د ۲۰۲۳ د مې-اکتوبر لپاره مسیر، آخر ځلي د ۲۰۲۳ د مې پر ۲۴ ورته لاسرسی شوی دی.
[8] د (ACAPS) د تحلیل شبکه، ۲۰۲۲، پر ټولنیز اغېز رڼا: جولای-اکتوبر ۲۰۲۲. د افغانستان د تحلیلګرانو شبکې د یوې مرکې له مخې حاکم چارواکي «ښوونو ته په بده سترګه ګوري پر دې باور دي چې ښوونې د بدو عملونو سزا ده» (سی آی ټي ای).
[9] د ۲۰۲۲ د نومبر یوې څېړنې وښوده چې د ښځینه کاري ځواک ګډون د تاریخي خوځښت په تړاو دوه برابره شوی دی چې ۴۵ سلنه دی: ۱۳ سلنه ښځې وزګارې دي او په کار پسې ګرځي او ۳۲ سلنه یې ګومارل شوې دي (ډېری خپله ګومارل شوې کارکوونکې دي چې د بزګرۍ کار کوي چې په کې د څارویو ساتل یا له کور څخه په کوچنۍ کچه اقتصادي فعالیتونو کې ښکېلېدل شامل دي لکه خامک دوزي یا د جامو ګنډل). نړیوال بانک، ۲۰۲۲، د افغانستان د هوساینې د څارنې سروې، ۲ دوره، واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک.
[11] د ۲۰۲۱ د ډسمبر پر ۲۶ حاکمو چارواکو یو فرمان صادر کړل چې ښځې له محرم پرته له ۷۸ کیلومترو څخه زیات سفر کولو څخه منع کوي.
د ملګرو ملتونو د ښځو سازمان، ۲۰۲۳، د افغان مېرمنو غږونه په ټول هیواد کې د ښځو د مشورتي ناستو د راپور لنډیز.

ټولې افغان مېرمنې په خپلو کورنیو کې په پرېکړو کولو کې محدودې نه دي. یو لږ شمېر مېرمنو ټینګار کاوه چې د دوی د کورنۍ نارینه غړي دوی ته غوږ نیسي او ملاتړ یې کوي. خو دا چاره هم تر ډېره تر کوره محدوده ده. له کوره بهر د کورنۍ نارینه غړي د حاکمو چارواکو د پالیسیو تابع دي چې له ښځو او نجونو څخه څواک اخلي چې دا تابعداري یې د فرمانونو د نه تعقیبولو د پایلو له وېرې وي. ښځو له افغان نارینه وو سره د ښکېلتیا پر اړتیا ټینګار کاوه چې په کورنیو کې د ښځو اغېزې پراختیا ومومي او د هغو وروسته پاتې ټولنیزو چلندونو په وړاندې مقاومت وکړي چې کړۍ یې له هر بندیز محدودیت فرمان یا سلوک سره چې ښځې یې هدف ګرځولې وي پراخېږي.

پر پرېکړو کولو باندې د افغان مېرمنو اغېز د حاکمو چارواکو د اغېز د ساحې له پراخیدلو سره سم په چټکۍ سره راکمېږي چې عامه او سیاسي ژوند ته د لاسرسي د یو نهادینه شوي انکار څرګندونه کوي چې د ۲۰۲۱ د اګست راهیسې پلی شوی دی. یو پراخه شمېر ښځو (۳۸ سلنه) احساس کاوه چې دوی په خپلو پراخه کورنیو کې «تقریباً هیڅ اغېز» یا «هیڅ اغېز» نه لري. ډېری مېرمنو  په خپلو ټولنو کې (۷۴ سلنه) او په ولایتي (۸۱ سلنه) او ملي کچو کې (۸۹ سلنه) دا ډول حس کاوه. ډېری ښځې (۸۱ سلنه) په تېرو درېو میاشتو کې د هغو موضوعاتو په اړه چې د دوی لپاره مهم دي په هیڅ کچه له حاکمو چارواکو سره ښکېل شوې نه دي. په پایله کې په منحصره توګه نارینه حاکم چارواکي په پرېکړو کولو کې د ښځو اړتیاوې او لیدلوري نالیدلي ګڼي.

## ټولنیزې اړیکې

د افغان ښځینه او نارینه وو ترمنځ خپل منځي اړیکې ماتیدونکې دي. له هغو ښځو سره چې مشورې ترسره شوي۶۳ سلنه یې په تېرو دریو میاشتو کې په خپله ټولنه کې له نارینه وو سره د اړیکو د خرابیدو خبر ورکړل. په اندېښمنه توګه ۳۹ سلنه یې د کورنۍ د نارینه غړو په اړه هم ورته خبر ورکړل د کورنۍ له نارینه غړو سره اړیکې د ښاري مېرمنو لپاره (۴۲ سلنه) د کلیوالي مېرمنو په پرتله (۳۲ سلنه) ډېرې خرابې شوې دي. چې د ښاري مېرمنو لپاره په ټولنیزو نورمونو او اقتصادي شرایطو کې د پام وړ بدلون ویاند دی. کله چې په ټولنه کې له نارینو سره د اړیکو د بدلون په اړه پوښتل شوې ځینې ښځو وویل چې کورنۍ تاوتریخوالی د حاکمو چارواکو د هغو پالیسیو له امله زیات شوی دی چې ښځې یې تر خپلو کورونو پورې محدودوي د خوندیتوب او روغتیایي خدمتونو شتون راکموي او په کورنیو کې مالي ستونزې زیاتوي.

له نورو  مېرمنو سره د افغان مېرمنو اړیکې چې په معمول ډول د جدي ملاتړ یوه شبکه وړاندې کوي هم خرابې شوې دي. نږدې نیمايي ځواب ویونکو (۴۸ سلنه) احساس کاوه چې په تېرو درېو میاشتو کې په ټولنه کې له نورو ښځو سره د دوی اړیکې هم کمزورې شوې دي. کابو ۱۵ سلنه یې په تېرو درېو میاشتو کې د خپلې کورنۍ له نږدې غړو پرته له نورو ښځو سره لیدنې کتنې نه دي کړې، ۳۱ سلنه نورو یې په میاشت کې له یو ځل څخه کم سره لیدنه کړې دی. دا شمېرې د ښځو د ټولنیزې انزوا زیاتوالی څرګندوي. دا موندنې په ځانګړې توګه په ختیځو سیمو (ننګرهار، لغمان او کونړ) او سویل ختیځو سیمو (پکتیا، پکتیکا، خوست او غزني) کې ډېرې شدیدې وې چې په کې په ترتیب سره ۸۸ سلنه او ۹۶ سلنه ښځو یادونه وکړه چې له نورو ښځو سره د دوی اړیکې په تېرو درېو میاشتو کې خرابې شوې دي.[12]  په ختیځه سیمه کې ۶۱ سلنه ښځو له نورو ښځو سره په میاشت کې له یو ځل څخه کم لیدنو یادونه وکړه. په سویل ختیځه سیمه کې ۵۸ سلنه ښځو څرګنده کړه چې دوی له نورو ښځو سره په تېرو درېو میاشتو کې یو ځل هم نه دي لیدلي. د نهادینه شوي ملاتړ د ټولو رغښتونو په له منځه وړلو او د ښځو او نارینو ترمنځ د ټولنیز درز په زیاتیدلو سره د ښځو ترمنځ د دوه اړخیز ملاتړ له لاسه ورکول په افغانستان کې د ښځو لپاره د پاتې څو مثبتو ستراتیژیو د مبارزي په وړاندې یو بل ګوزار دی.

## د ښځو پر رواني روغتیا اغېز

افغان مېرمنې د یوې ژورې رواني ناروغۍ د ناورین انځورنه کوي چې پای یې نه لیدل کېږي. د رواني روغتیا ملاتړ د ښځو لپاره د لاسرسي وړ نه دی او د ټولنې غیررسمي ملاتړ نور شتون نلري ځکه چې پر تګ راتګ باندی د بندیزونو او د نامصؤنیت او بې باورۍ فضا ټولنیزو اړیکو ته صدمه رسولې ده. [13] له دوه پر درې څخه زیاته برخه افغان مېرمنو ویل چې دوی په فزیکي توګه خوندي احساس نه کوي[14]، چې دا د دې څرګندونه کوي چې په افغانستان کې د شخړې پای د ښځو لپاره د امنیت په معنی نه دی. نږدې ۹۰ سلنه

---

[12] دا موندنې باید څرګندوونکې وګڼل شي او باید د پراخو بېلګو له لارې نورې هم وسپړل شي.

[13] په افغانستان کې د اوسنۍ رواني روغتیا ننګونو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره، وګورئ: د کډوالۍ نړیواله اداره، ۲۰۲۲، د رواني روغتیا د څېړنې لنډیز: په افغانستان کې د ۲۰۲۱ د اګست څخه  د بېځایه توب ټرینډونه او ننګونې.

[14] د هغو ښځو څخه چې مشورې ورسره شوې دي ۶۸ سلنه یې احساس کولو چې د دوی فزیکي امنیت «ډېر بد» یا «بد» دی.

یې ویل چې د دوی رواني روغتیا د تشویش، انزوا او ډیپریشن له امله، «ډېره خرابه» یا «خرابه» ده[15] په ۲۰۲۳ مارچ کې د بشنو بنسټ څخه راغونډې شوې ډیټا څرګنده کړه چې (په هیواد کې دننه ۲۱۱۲ تنه) سروې شوو افغان مېرمنو څخه ۴۸ سلنو خبر ورکولو چې داسې یو څوک پېژني چې له خپګان او یا اضطراب څخه کړېږي.[16] هغه ښځې چې مشورې ورسره شوې د فرصتونو د کموالي له امله د ناهیلۍ او مایوسۍ پر احساس ټینګار کول په ځانګړې توګه د منځنیو ښوونځیو او پوهنتونونو د بندیدلو په پام کې نیولو سره.

د کلیوالي او ښاري ښځو ترمنځ د رواني ناروغۍ توپیرونه د پام وړ وو. په تېرو درېو میاشتو کې، د کلیوالي ښځو (۴۹ سلنه) په پرتله د ښاري ښځو (۶۲ سلنه) لپاره د اضطراب، انزوا او خپګان احساس په زیاته کچه خراب شوی وه. همدا ډول ډېرې ښاري مېرمنې په دې فکر وې چې ښايي د ښځو او نجونو لپاره د وضعیت خرابوالی دوام ومومي (۵۹ سلنه د کلیوالي ښځو د ۴۳ سلنې په پرتله). دا ښکاره کوي چې ښاري ښځې د کلیوالي ښځو په پرتله ډېر فرصتونو او ازادۍ له لاسه ورکولو احساس کاوه. په کلیوالي سیمو کې د رواجونو او دودونو له امله ښايي دوی له کمو فرصتونو او محدودو جنسیتي نورمونو سره د طالبانو له واک ته رسیدلو وړاندې عادي شوې وي.

د حاکمو چارواکو له خوا محدودیتونه او د جنسیت حاد توپیر د رواني ناروغۍ د ستراتیژیو په وړاندې د مبارزې خنډ ګرځي. د خوځښت ازادۍ او عامه ځایونو ښوونځیو، پوهنتونونو، پارکونو، جیمونو او عامه حمامونو ته د لاسرسي په وړاندې موجود خنډونه تمرین تفریح او ټولنیزې اړیکې محدودوي. د مفاهمې د وسایلو لکه موبایل ټیلیفونونو او انټرنیټ لاسرسي نشتوالی د مقاومو لارو چارو او همدا ډول د خفیه او آنلاین زده کړې له لارې زده کړو ته د دوام ورکولو د فرصتونو مخه هم نیسي.[17]

## د ملګرو ملتونو په مقابل کې د ښځو لومړیتوبونه

هغه افغان مېرمنې چې مشورې ورسره شوې دي په ټینګه سره خپلې غوښتنې ته ادامه ورکړه چې نړیواله ټولنه دې افغان مېرمنو ته له حاکمو چارواکو سره په هر ډول ښکېلتیا کې د موضوع په سر کې ځای ورکړي. دوه پر درې برخو ځواب ویونکو احساس کاوه چې د نړیوالې ټولنې لپاره د ښځو د حقونو په اړه د ښکېلتیا لپاره تر ټولو اغېزناکه لاره دا ده چې افغان مېرمنو ته فرصتونه برابر کړي چې په مستقیمه توګه له حاکمو چارواکو سره وګوري (۶۴ سلنه). افغان مېرمنې دا غوښتنه د ۲۰۲۲ د اګست راهیسې کوي وايي چې ښکېلتیا باید هم په مرکزي او هم په محلي کچو کې ترسره شي.[18]

نږدې دوه پر درې برخې ځواب ویونکو د نادولتي مؤسسو کارکوونکو ښځو باندې د بندیز او تر ملګرو ملتونو پورې د هغه د پراختیا د بشپړ بېرته اخیستل اړوند مذاکراتو (۵۳ سلنه) یا له یاد بندیز څخه د معافیت اړوند مذاکراتو پلویانې وې (۱۷ سلنه). له یوې ربعې څخه لږ ځواب ویونکو (۲۳ سلنه) له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوله چې د بشردوستانه مرستې په شمول خپل ګامونه په بشپړه یا نیمګړې توګه ودروي. دا سپارښتنه حتی هغو ښځو هم کوله چې بشردوستانه مرستې ترلاسه کوي؛ ۲۱ سلنه داخلي بېځایه شوو ښځو هوکړه کوله چې نړیواله ټولنه باید په بشپړه توګه د بشردوستانه مرستې په شمول خپل کارونه تعلیق کړي.

په ځینو سیمو کې ښځې د نړیوالې ټولنې له خوا د کار په بشپړه توګه تعلیق غوښتنه کوله چې په سویل ختیځه سیمه (خوست، غزني، پکتیا او پکتیکا) کې ۷۹ سلنه، او په سویلي سیمه (کندهار، هلمند، او نیمروز) کې ۳۶ سلنه ښځو دا غوښتنه لرله. په روښانه توپیر سره په ختیځه سیمه (لغمان، کونړ او ننګرهار) او لویدیځه سیمه (فراه، هرات او بادغیس) کې کومه ښځه ونه ویل چې نړیواله ټولنه دې په بشپړه توګه خپل کارونه وځنډوي. په دواړو سیمو کې ښځو د بندیز د بېرته اخیستلو په اړه زیاتې ښکېلتیا (په ترتیب سره ۹۰ او ۶۸ سلنه) یا د معافیت اړوند مذاکراتو (په ترتیب سره ۱۰ او ۲۳ سلنه) ته لومړیتوب ورکولو پلویانې وې.

افغان مېرمنې د خپلو ځانونو او خپلو نجونو لپاره ژورې هیلې لري چې خپلې بشپړې توان ته ورسېږي او په اوږد مهال کې په افغان ټولنه کې ونډه واخلي. له عاید پرته مېرمنې پر کار باندې د بندیز او تګ راتګ باندې د محدودیتونو پر ځای پر زده کړو باندې د بندیز په اړه اندېښمنې وې.[19] په ټولو ولایتونو کې، نږدې ۶۶ سلنه ښځو بیان کړه چې د حقونو اړوند اندېښنې لا هم تر ټولو مهم لومړیتوب دی. د بشري حقونو په ځانګړو لومړیتوبونو کې زده کړې (۲۶ سلنه)، د ښځو حقونه (۲۶ سلنه) او د ښځو لپاره اقتصادي فرصتونه (۱۵ سلنه) شامل ول. په پراخه پیمانه، افغان مېرمنو په خپل ژوند کې د ډېرو فرصتونو له لاسه ورکولو په اړه پښېماني او د ترلاسه کولو لپاره یې خپله ناچاره هیله وښودله.

---

[15] په پوښتنو کې د ۱ («ډېر بد») څخه تر ۵ («ډېر ښه») کچه کارول شوې وه.
[16] د بشنو سروې، ۳۱ مارچ ۲۰۲۳ وګورئ.
[17] په ۲۰۲۲ کې، ۲۵ سلنه افغان نارینه وو د ۶ سلنه افغان مېرمنو په پرتله انټرنیټ ته د لاسرسي خبر ورکولو. د کلیوالي ښځو (۲ سلنه) څخه ښاري ښځو (۹ سلنه ) د لاسرسي ډېر احتمال درلود. ک. نصرتي او س. کرابټري، ۲۰۲۳ وګورئ، «د افغان مېرمنو لپاره ډیجیټل ازادي له رسیدګۍ بهر ده،» ګالوپ بلاګ، ۸ مارچ.
[18] دا د ۲۰۲۲ د اګست راهیسې په ربعوارو مشورتي ناستو کې د افغان مېرمنو ترمنځ تر ټولو زیات تکراریدونکی پیغام دی.
[19] دا د ۲۰۲۳ په مارچ کې د بشنو سروې ته د نږدې ۳۶ سلنه «عاید نه لرونکو» ځوابویونکو حالت و. د کمو او منځني عاید لرونکو ځوابویونکو ترمنځ هم دا حالت حاکم و.

## سپارښتنې

افغان مېرمنو له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړو چې دوي ترک نه کړي او د ښځو حقونه په افغانستان کې د ښکېلتيا په اړه د ټولو پرېکړو لپاره مهم ټکی يا - سره کرښه - وټاکي.

د ښځو په ځانګړو سپارښتنو کې لاندې شاملې وې:

- د افغان مېرمنو ترځنګ له حاکمو چارواکو سره په مستقيمه توګه مذاکرات کول چې په نادولتي مؤسسو کې پر کارکوونکو ښځو باندې بنديز او ملګرو ملتونو ته د دې بنديز د پراختيا پرېکړه بېرته واخلي.
- پر حاکمو چارواکو باندې فشار ته ادامه ورکول د په نښه شويو اقتصادي تحريمونو په شمول.
- د ښځو پر مشرۍ ادارو او د ښځو د حقونو لپاره کارکوونکو نهادونو ته مستقيم مالي وجهه ورکول.
- په نادولتي مؤسسو کې پر کارکوونکو ښځو باندې بنديز او ملګرو ملتونو ته د دې بنديز د پراختيا د پرېکړې بېرته اخيستلو لپاره د تبليغ ترځنګ افغان مېرمنو او نجونو ته د امکان ترحده زيات فرصتونه وړاندې کول چې د کور دننه او آنلاين عايد توليدوونکو مسلکي او ښوونيزو نوښتونو کې بوختې شي او آنلاين ټولنيز رواني ملاتړ ترلاسه کړي.
- د ښځو او نجونو لپاره د فرصتونه زياتول چې له افغانستان څخه تخليه شي او بهر کې له سره مېشتې شي چې د سکالرشيپونو او بيامېشتيدنې پروګرامونو له لارې د دې چارې ترسره کول هم په کې شامل دي. [٢٠]

[٢٠] دا سپارښتنې د هغو ښځو ترمنځ د ناچارۍ او نهيلۍ کچه څرګندوي چې مشورتي ناستې ورسره شوې دي. ښځو تخليې ته د وروستي بديل په توګه کتل خو په ورته توګه يې احساس کولو چې دا د هغو اوږدمهالو ستونزو لپاره حل لاره نه ده چې افغانستان ورسره مخ دی.